# الشورى

**مکی سورة دی ۵۳ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ١

عٓسٓقٓ ٢

**حا- میم - عین- سین- قاف( په اصل معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).**

كَذَٰلِكَ يُوحِيٓ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٣

**په دې توګه برلاسی او د حکمت څښتن ذات الله تعالی تاته وحي کوی او ستانه وړاندنیو انبیاو ته یې هم (خپل پیغام د وحې په ترڅ کې) اورولی و.**

لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٤

**د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات او مخلوقات د( الله تعالی) د مالکیت او فرمان لاندی دی، او هغه د لوړی او سترې مرتبې څښتن ذات دی.**

تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِن فَوۡقِهِنَّۚ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِمَن فِي ٱلۡأَرۡضِۗ أَلَآ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ٥

**نږدې ده( چې د مشرکانو د هغې بی ادبۍ او ګستاخی له امله چې د الله تعالی ذات ته لونه او ځامن منسوبوی) آسمانونه له پورته سطحې وچوی( او ټوټه ټوټه راوغورځی خو الله تعالی د ډیر زیات مغفرت له امله خلکو ته مهلت ورکوی او دغه نظام نه ویجاړوی.) او پرښتې هم د خپل رب په ستاینو او تسبیحاتو کې د ځمکې د اوسیدونکو لپاره د ښښنې دعاګانې کوی. خبردار اوسی چې الله تعالی ډیر زیات ښښونکی او مهربان ذات دی.**

وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهُ حَفِيظٌ عَلَيۡهِمۡ وَمَآ أَنتَ
عَلَيۡهِم بِوَكِيلٖ ٦

او هغه کسان چې له الله تعالی نه غیر یې نور سرپرستان غوره کړی، الله تعالی یې( په اعمالو او اقوالو) څارونکی دی او ته یې ذمه وار نه یې.

وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَا
وَتُنذِرَ يَوۡمَ ٱلۡجَمۡعِ لَا رَيۡبَ فِيهِۚ فَرِيقٞ فِي ٱلۡجَنَّةِ وَفَرِيقٞ فِي ٱلسَّعِيرِ ٧

او په دې توګه مو قرآن( په فصیحه او روانه) عربی (ژبه) تاته وحې کړی، ترڅو پرې د ام القری (مکې معظمې) او د هغې شاوخوا خلک( د لومړنیو مخاطبینو پحیث) تنبیه کړی او د راغونډیدو( قیامت) د ورځې له راتګ نه یې چې هیڅ شک او تردید پکې نشته وویروی، هغه ورځ چې یو شمیر خلک به جنت او یو شمیر به سوزوونکی اور ته لاړ شی.

وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَهُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ
وَٱلظَّٰلِمُونَ مَا لَهُم مِّن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ٨

که د الله تعالی اراده وی نو دوی به یې (په زور او جبر د هدایت په محور) یو واحد امت جوړ کړی وی( خو اجباری هدایت هیڅ ارزښت نه لری). هر چاته چې وغواړی، پخپل رحمت کې یې داخلوی او د ظالمانو او تیری کوونکو( د نجات لپاره) به هیڅ دوست او مرستندوی نه وی.

أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۖ فَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡوَلِيُّ وَهُوَ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٩

آیا د الله تعالی په مقابل کې یې نور سرپرستان او باطل خدایان غوره کړی؟ په داسې حال کې چې واقعی سرپرست همدا الله تعالی دی چې مړی راژوندی کوی او په ټولو چارو برلاسی او د طاقت څښتن دی.

وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبِّي عَلَيۡهِ
تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ ١٠

**او( د دین، عقایدو او احکامو په چارو کې )ستاسو د اختلافاتو په باب، وروستی فیصله او قضاوت به الله تعالی کوی.( ای پیغمبره! دغه حکم خلکو ته ابلاغ کړه او ووایه:) همدا (حکم کوونکی) دی زما رب الله تعالی. زما توکل یوازې په هغه دی او بیرته هم د هغه حضور ته ورګرځم.**

فَاطِرُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ أَزۡوَٰجٗا يَذۡرَؤُكُمۡ فِيهِۚ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ﴿١١﴾

**د آسمانونو او ځمکې مؤجد او خالق دی، ستاسو له خپل جنس څخه یې درته جوړې( د ژوند ملګری) پیدا کړل، او په څارویو کې یې هم جوړې پیدا کړې او په همدغه( حکیمانه تدبیر سره) ستاسو شمیر زیاتوی. هیڅ شی د هغه د ذات په شان نه دی او هغه( د ټولو اقوالو) اوریدونکی او( د هر څه د کړنو) لیدونکی ذات دی.**

لَهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿١٢﴾

**د آسمانونو او ځمکې( د خزانو) کلی ګانې له الله تعالی سره دی او هر چاته چې وغواړی روزی او په پراخه اندازه ورته( د ژوند اسانتیاوې) برابروی، او یا یې ورباندې محدودوی. بیشکه چې هغه په ټولو چارو( او د هغو په عواقبو) ډیر ښه پوهیږی.**

۞ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحٗا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ كَبُرَ عَلَى ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ٱللَّهُ يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾

**تاسو ته یې هغه دین درکړی چې نوح ته یې پرې امر کړی و، او( ای محمد صلی الله علیه و سلم) اوس مو تاته د وحې په اساس درکړی او ابراهیم او موسی او عیسی ته مو هم ورباندې امر کړی و، چې په( الهی) دین باندې ټینګ ودریږئ او ډلې ټپلې مه جوړوئ. هغه دین( توحید، د رسول اطاعت او الهی شریعت) چې ته ورته خلک رابلې، په مشرکانو باندې ډیر درونږ تمامیږی. څاته چې الله تعالی اراده وکړی، د دین تبلیغ او**

**خدمت ته یي هڅوی او  هغه چاته د هدایت په لاره د تللو همت او توفیق ورپه برخه کوی چې دی پخپله د الله تعالی حضور ته د تقرب هیله من وی.**

وَمَا تَفَرَّقُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ
سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى لَّقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُورِثُواْ
ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ١٤

**او سره له دې چې پخوانیو امتونو ته علم او پوهه رسیدلي وه خو بیا یي هم د خپلمنځی حسد او دښمنۍ له مخې پخپلو دینی چارو کې اختلافات پیل کړل او که ستا د رب له لوری د مهلت( فرمان) وړاندې له وړاندې موجود نه وی نو( د هلاکت) فیصله به یي صادره شوی وی، او هغه کسان چې د پخوانیو امتونو وروسته ورته آسمانی کتاب ورکړی شوی( د مبارک قرآن په باب) په سخت شک او تردید کې پراته دی.**

فَلِذَٰلِكَ فَٱدۡعُۖ وَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡۖ وَقُلۡ
ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٖۖ وَأُمِرۡتُ لِأَعۡدِلَ بَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ
رَبُّنَا وَرَبُّكُمۡۖ لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡۖ لَا حُجَّةَ بَيۡنَنَا
وَبَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَاۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ١٥

**نو( ای پیغمبره! د دینی اختلافاتو په دغه توپانی او اضطراری حالت کې د قرآن حقانیت ته خلک) راوبله او پخپله هم زمونږ د امر مطابق په قرآنی احکامو ثابت قدم اوسه او د( کافرانو او مشرکینو) د نفسی خواهشاتو پیروی مه کوه، او ورته وایه: د الله تعالی له لوری په هر نازل شوی کتاب مي ایمان راوړی، او په دې مؤظف یم چې ستاسو ترمنځ عادلانه فیصله وکړم. الله تعالی هم زما رب دی او ستاسو. مونږ د خپلو اعمالو ذمه وار یو او تاسو د خپلو. ( د حقایقو د روښانتیا نه وروسته) زمونږ او ستاسو ترمنځ هیڅ حجت او برهان نشته. الله تعالی به (د قیامت په ورځ) مونږ ټول احضار کړی او بیشکه چې مونږ ټول د هغه حضور ته احضاریدونکی یو.**

وَٱلَّذِينَ يُحَآجُّونَ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ٱسۡتُجِيبَ لَهُۥ حُجَّتُهُمۡ دَاحِضَةٌ
عِندَ رَبِّهِمۡ وَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ وَلَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٌ ﴿١٦﴾

**(سره له دې چې د الله تعالی د دین او قرآن حقانیت په هر ډګر کې اثبات ته رسیدلی او حتی د غیر اسلامی علماو او پوهانو له خوا تصدیق شوی) بیا هم یو شمیر( کافران او مشرکان د خلکو د بې لارې کولو لپاره له مؤمنانو سره) جنجالونه او مناقشې کوی چې دلایل یې د الله تعالی په نزد باطل او د الهی قهر او غضب او سخت عذاب مستحق ګڼل شوی دی.**

ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ وَٱلۡمِيزَانَۗ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ
قَرِيبٞ ﴿١٧﴾

**الله تعالی هغه ذات دی چې کتاب( قرآن یې په حقه نازل کړی) او میزان( د اجسامو او اموالو د تللو تله، د سلیم عقل معنوی تله، د عدل، انصاف او مساوات اخلاقی تله او ترتبولو مهمه د حق او باطل او خالق او مخلوق د حقوقو د ټاکلو او سنجش او تفکیک تله ) یې مقرر کړې او( ای انسانه!) ته څه خبر یې کیدی شی قیامت ډیر نږدې وی( نو باید په پاکه عقیده او صالحو اعمالو سره ورته تیاری ولرې).**

يَسۡتَعۡجِلُ بِهَا ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِهَاۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مُشۡفِقُونَ
مِنۡهَا وَيَعۡلَمُونَ أَنَّهَا ٱلۡحَقُّۗ أَلَآ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُمَارُونَ فِي ٱلسَّاعَةِ لَفِي
ضَلَٰلِۭ بَعِيدٍ ﴿١٨﴾

**د قیامت له قیام نه منکر کسان،( د ټوکو او مسخرو نه په ډکه ګستاخانه لهجه او) عجله د قیامت د راتلو غوښتونکی دی، او مؤمنان له هغې ورځې نه په ویره کې دی او پوهیږی چې د قیامت قیام حق دی. بیشکه چې د قیامت د قیام منکرین په لایتناهی ګمراهی کې پراته دی.**

ٱللَّهُ لَطِيفُۢ بِعِبَادِهِۦ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُۖ وَهُوَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡعَزِيزُ ﴿١٩﴾

**(حقیقت دا دی چې د انسانانو له انکار، نافرمانۍ او تکذیب او عناد سره سره) الله تعالی پخپلو بندګانو ډیر زیات مهربان او لورورونکی ذات دی( د هیچا روزی نه قطع کوی) هر چا ته چې یې اراده وشی پراخه روزی( او د ژوند اسانتیاوې) ورته برابروی، او (پخپلو ټولو چارو پیاوړی او برلاسی) دی.**

مَن كَانَ يُرِيدُ حَرۡثَ ٱلۡأٓخِرَةِ نَزِدۡ لَهُۥ فِي حَرۡثِهِۦۖ وَمَن كَانَ يُرِيدُ
حَرۡثَ ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ٢٠

**ځوک چې په اخروی دنیا کې د خپل کښت زیاتولو هیله من وی( او په مخلصانه ایمان او صالحو اعمالو ورته کوښښونه کوی) مونږ یې ورته حاصلات ورزیاتوو( د دنیوی هوسایې او برکت نه علاوه ورته، په آخرت کې د یوه نیک عمل په مقابل کې له لسو تر اوو سوو پورې اجر ورکوو) او ځوک چې یوازې د دنیوی کښت د زیاتوالی لپاره هلې ځلې کوی، مونږ یې ورته( که وغواړو) زیاتوو، خو په آخرت کې یې هیڅ برخه نشته.**

أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ
وَلَوۡلَا كَلِمَةُ ٱلۡفَصۡلِ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ
عَذَابٌ أَلِيمٞ ٢١

**آیا مشرکان او کافران داسې باطل خدایان لری چې د دوی لپاره یې د الله تعالی له اجازې پرته دین او قانون جوړ کړی( په داسې حال کې چې د دین جوړولو او د حرامو او حلالو د تفکیک حق او صلاحیت یوازې الله تعالی ته ځانګړی دی، او هیچا ته د دین جوړولو اجازه نشته). او که د( مهلت ورکولو او عذاب د تأخیر په باب د الله تعالی قاطعانه کړنلاره موجود نه وی) نو د دوی( د هلاکت او تباهی) فیصله به لا پخوا صادره شوی وی. بې له شکه چې د ظالمانو لپاره دردوونکی عذاب تیار شوی( چې پخپل ټاکلی وخت به ور په برخه شی).**

تَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا كَسَبُواْ وَهُوَ وَاقِعُۢ بِهِمۡۗ
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِي رَوۡضَاتِ ٱلۡجَنَّاتِۖ
لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمۡۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ ٢٢

**ظالمان( که نن نه ویرېږی) د قیامت په ورځ به ورته ګورې چې د خپلو ناوړو اعمالو د عواقبو او نتایجو سخته ویره او ترهه به وربانديې مسلطه وی، ځکه چې همدغه ناوړه عواقب به ورته رسیږی( او د نجات لاره به هم نه مومی). او د ایمان او نیکو اعمالو خاوندان به د جنت په باغونو کې هستوګن وی، هر څه چې دوی یې غواړی د دوی د رب له لوری به ورته ورکول کیږی، ربښتیا چې دا تر ټولو لوی فضل او امتیاز دی.**

ذَٰلِكَ ٱلَّذِي يُبَشِّرُ ٱللَّهُ عِبَادَهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِۗ قُل لَّآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًا إِلَّا ٱلۡمَوَدَّةَ فِي ٱلۡقُرۡبَىٰۗ وَمَن يَقۡتَرِفۡ حَسَنَةٗ نَّزِدۡ لَهُۥ فِيهَا حُسۡنًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾

**دا هغه (ثواب او اجر) دی چې الله تعالی یې خپلو مؤمنو او نیک عمله بندګانو ته زیری ورکوی.( ای پیغمبره! خلکو ته) ووایه چې زه ستاسو نه( د الهی پیغام د ابلاغ په بدل کې) هیڅ معاوضه او اجوره نه غواړم بلکه هدف مې الهی دربار ته ستاسو نږدیوالی دی، څوک چې نیک کارونه وکړی د هرې نیکی اجر یې ورته زیاتوو، بیشکه چې الله تعالی ببښونکی او( د لږ عمل په مقابل کې د ډیر زیات) اجر ورکوونکی دی.**

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗاۖ فَإِن يَشَإِ ٱللَّهُ يَخۡتِمۡ عَلَىٰ قَلۡبِكَۗ وَيَمۡحُ ٱللَّهُ ٱلۡبَٰطِلَ وَيُحِقُّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٢٤﴾

**آیا( جاهل کافران او منافقان) وایی چې( پیغمبر د خپل نبوت په اعلان او د قرآن په وړاندې کولو سره) په الله باندې د درواغو تومت تړلی.( ای پیغمبره! بیشکه چې ته له دروغو ویلو او تومت تړلو څخه کاملاً پاک یې، خو که فرضاً کومه خبره له ځانه جوړه او بیا یې الله تعالی ته منسوبه کړې) او الله تعالی اراده وکړی نو ستا په زړه به مهر ولګوی( او د وحې سلسله به درنه قطع شی).الله تعالی باطل له منځه وړی او حق پخپلو کلماتو سره ثابت او مستحکم ثابت ساتی بیشکه چې الله تعالی د زړونو په پټو نیتونو او اسرارو ډیر ښه پوهیږی.**

وَهُوَ ٱلَّذِي يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَعۡفُواْ عَنِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ وَيَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ ﴿٢٥﴾

**او الله تعالی دی چې د خپلو بندګانو توبه قبلوی او ګناهونه یې ورته ببښی، او ستاسو په ټولو کړنو ډیر ښه خبر دی.**

وَيَسۡتَجِيبُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۚ وَٱلۡكَٰفِرُونَ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞ ﴿٢٦﴾

**او د نیک عمله مؤمنانو دعاګانې او درخواستونه منی او په هغوی باندې خپل فضل او احسان زیاتوی او د کافرانو لپاره سخت عذاب په وړاندې پروت دی.**

۞ وَلَوۡ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزۡقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٖ
مَّا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ بَصِيرٞ ٢٧

**او که الله تعالی خپلو بندگانو ته روزی پراخه کړی نو دوی به په ځمکه کې ظلم او سرکشی وکړی، خو څه چې ( د الله تعالی)اراده وشی په ټاکلی اندازه یې نازلوی. بیشکه چې هغه د خپلو بندگانو په مصالحو ډیر ښه خبر او لیدونکی دی.**

وَهُوَ ٱلَّذِي يُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ مِنۢ بَعۡدِ مَا قَنَطُواْ وَيَنشُرُ رَحۡمَتَهُۥۚ وَهُوَ
ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٢٨

**او الله تعالی هغه ذات دی چې باران په داسې وخت کې چې خلک یې (له وربښت نه) بیخی نا امیده شی، نازلوی او خپل رحمت پراخوی او هغه تر ټولو ښه سرپرست او پخپله ستایل شوی ذات دی.**

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ خَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَآبَّةٖۚ وَهُوَ
عَلَىٰ جَمۡعِهِمۡ إِذَا يَشَآءُ قَدِيرٞ ٢٩

**او د الله تعالی (د قدرت او ربوبیت) یوه لویه نښه د آسمانونو او ځمکې او په هغو دواړو کې شته موجودات او ساکښان دی او الله تعالی څنګه چې اراده وکړی د ټولو د احضارولو، پوره قدرت لری.**

وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٖ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ
عَن كَثِيرٖ ٣٠

**او هر مصیبت او رنځ چې تاسو ته رسی ستاسو د خپلو اعمالو نتیجه ده او (الله تعالی) ستاسو ډیر گناهونه درته ښښی( او وربانډې مو، نه رانیسی).**

وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا
نَصِيرٖ ٣١

**او نه خو تاسو په ځمکه کې( الله تعالی ته)کوم زیان رسولی شئ( نه یې د قدرت له ساحې وتلی شئ) او نه د الله تعالی نه غیر بل کوم سرپرست او کارجوړوونکی لرئ.**

وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلْجَوَارِ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَٰمِ ﴿٣٢﴾

**او د الله تعالی د قدرت له نښانو څخه یوه هم په بحر کی غرونو ته ورته کښتی دی( چې د باد په مرسته په حرکت کې دی).**

إِن يَشَأْ يُسْكِنِ ٱلرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّكُلِّ

صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٣٣﴾

**که الله تعالی وغواړی باد به ودروی او کښتی به د اوبو په سطحه ساکنې او بې حرکته پاتې شی. بیشکه چې په دې واقعیت کې ( په مصیبتونو) د هر صبر کوونکی،( او په نعمتونو) د هر شکر کوونکی لپاره( د الله تعالی د قدرت او ربوبیت) نښې پرتې دی.**

أَوْ يُوبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوا۟ وَيَعْفُ عَن كَثِيرٍ ﴿٣٤﴾

**او یا که وغواړی کښتی به( د سپرلیو سره یوځای) د هغوی د ګناهونو له امله تباه کړی، خو( الله تعالی) بیا هم هغوی ته د زیاترو ګناهونو بښنه کوی.**

وَيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴿٣٥﴾

**(بیشکه چې د دوی تباهی به د دوی د خپلو اعمالو سزا وی) او هغه لوی جګړه ماران هم چې زمونږ د آیتونو په باب مناقشې او مجادلې کوی باید وپوهیږی چې( زمونږ د قدرت له ساحې نه) د هغوی د تیښتې لپاره هیڅ لار نشته.**

فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَىْءٍ فَمَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ لِلَّذِينَ

ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٣٦﴾

**نو هغه( مادی وسایل او ابزار) چې تاسو ته درکړی شوی د فانی او ژر تیریدونکی دنیوی ژوند متاع ده خو هغه (اجر او ثواب) چې له الله تعالی سره دی د مؤمنانو او پخپل رب باندې د توکل کوونکو لپاره ډیر غوره او تلپاتې دی.**

وَٱلَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلْإِثْمِ وَٱلْفَوَٰحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا۟ هُمْ

يَغْفِرُونَ ﴿٣٧﴾

او د هغو کسانو لپاره هم( غوره دی) چې له کبیره ګناهونو او فحشاو نه ځانونه لیرې ساتی او د قهر او غصې په وخت کې( هم خلکو ته) بښنه کوی.

وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣٨﴾

او د هغو کسانو لپاره هم( غوره دی) چې د خپل رب بلنه یې منلې او لمونځونه کوی او چارې یې د خپلمنځی مشورې په اساس روانې وی او زمونږ له ورکړې شوې روزۍ نه صدقې او خیراتونه ورکوی.

وَالَّذِينَ إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾

او د هغو کسانو لپاره هم( غوره دی) چې ظلم او تیری ته( د تسلیمۍ سر نه ټیټوی بلکه له دښمن نه د اسلامی شریعت او احکامو سره سم) انتقام اخلې.

وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۖ فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿٤٠﴾

د بدیو بدل او انتقام د هماغې بدۍ په شان دی( نه زیات) خو که څوک له انتقام اخستلو تیر شی او (له مقابل لوری سره) سوله وکړی، اجر یې د الله تعالی په حضور کې ثابت دی، بیشکه چې الله تعالی ظالمان نه خوښوی.

وَلَمَنِ انتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهِ فَأُولَٰئِكَ مَا عَلَيْهِم مِّن سَبِيلٍ ﴿٤١﴾

او هغه کسان چې د ظلم په مقابل کې( د اسلامی شریعت په رڼا کې) انتقام اخستل غواړی هیڅ الزام او ګناه وربانديې نشته( او مقدس اسلامی شریعت د هغوی حقه حقوق نه باطلوی).

إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَظْلِمُونَ النَّاسَ وَيَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٢﴾

اعتراض یوازې په هغو کسانو دی چې په خلکو ظلم کوی او په ناحقه په ځمکه کې د سرکشۍ او بې نظمۍ اور بلوی. دوی د دردونکی عذاب مستحق دی.

وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿٤٣﴾

او څوک چې د لاس برۍ او قدرت سره سره صبر کوی( او انتقام نه اخلی نو په حقیقت کې یې) ډیر غوره او د بزرګوارۍ دریځ یې خپل کړی دی.

وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن وَلِيّٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦۗ وَتَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ لَمَّا رَأَوُاْ
ٱلۡعَذَابَ يَقُولُونَ هَلۡ إِلَىٰ مَرَدّٖ مِّن سَبِيلٖ ٤٤

او څوک چې الله تعالی یې( د کبر او عناد په جرم) گمراه کړی، بیا د هغه له ذات نه غیر بل هیڅ دوست او مرستندوی نشی موندلی، او ظالمانو ته به گورې چې د قیامت په ورځ ( د پښیمانی لاسونه مروړی) او وایی به کاش دنیا ته د بیرته ستنیدو کومه لاره وی.

وَتَرَىٰهُمۡ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا خَٰشِعِينَ مِنَ ٱلذُّلِّ يَنظُرُونَ مِن
طَرۡفٍ خَفِيّٖۗ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ
أَنفُسَهُمۡ وَأَهۡلِيهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ أَلَآ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ فِي عَذَابٖ
مُّقِيمٖ ٤٥

او ورته به گورې چې ( دوزخ ته) وړاندې کیږی( او په داسې حال کې چې د رسوایی د شدت له امله یې) سرونه ټیټ وی د سترگو لاندې به( اور) ته گوری، او اهل ایمان به وایی یقیناً زیانمن هغه کسان دی چې د قیامت په ورځ یې خپل ځان او خپلې کورنۍ ته زیان رسولی دی. بیشکه چې ظالمان به په تلپاتې عذاب کې پراته وی.

وَمَا كَانَ لَهُم مِّنۡ أَوۡلِيَآءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِۗ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا
لَهُۥ مِن سَبِيلٍ ٤٦

او د الله تعالی( له عذاب نه د نجات لپاره به) هیڅ مرستندوی او سرپرست و نه لری.او هغه څوک چې الله تعالی گمراه کړی وی(د نجات او نیکمرغۍ لور ته به) هیڅ لاره پیدا نه کړی.

ٱسۡتَجِيبُواْ لِرَبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۚ مَا
لَكُم مِّن مَّلۡجَإٖ يَوۡمَئِذٖ وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٖ ٤٧

( ای انسانی پرګنو!) د خپل رب( بلنې او احکامو ته) غاړه کيږدی، وړاندې له دې چې د الله تعالی له لوری( د مرګ يا قيامت) هغه ورځ راورسی چې هيڅوک يې مخه نشی نيولی.هغه ورځ چې نه به( تاسو د خپلو اعمالو) څخه انکار کولی شئ او نه به د تيښتې لار پيدا کړئ.

فَإِنْ أَعْرَضُوا۟ فَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ إِنْ عَلَيْكَ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ۗ
وَإِنَّآ إِذَآ أَذَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ
سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَإِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ كَفُورٌ ﴿٤٨﴾

نو( ای پيغمبره!) که څوک ستا له دعوت نه مخ وګرځوی( مه خفه کيږه) ته د هغوی څارونکی او مراقب نه يې( چې په زور او جبر يې د هدايت لارې ته راسم کړې) په تا باندې د الهی پيغام له رسولو او ابلاغ نه زيات هيڅ ډول ذمه واری نشته. او کله چې مونږ خپل رحمت( صحت، امنيت او ثروت) په انسان ولوروو، نو بيا مست او مغرور شی او که يې( د ګناهونو په سزا کې) په کوم رنځ او کړاو اخته کړو( الهی رحمت يې هير شی) بيشکه چې( دغه ډول) انسان ډير ناشکره دی.

لِّلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ
إِنَٰثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ﴿٤٩﴾

د آسمانونو او ځمکې مالکيت او حاکميت الله تعالی ته ځانګړی دی، څه چې يې اراده وشی پيدا کوی يې، چاته چې وغواړی لوڼه ورکوی او چاته چې يې اراده وشی په ځامنو يې نازوی.

أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَٰثًا ۖ وَيَجْعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيمًا ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌ
قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾

او يا ورته لوڼه او ځامن دواړه ورکوی، او څوک هم عقيم او ميرات کړی. بيشکه چې الله تعالی( د خپلو بندګانو په مصالحو) پوه او( پخپلو ټولو اقداماتو) پوره قدرت لرونکی ذات دی.

۞ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَآئِ حِجَابٍ أَوْ
يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِىَ بِإِذْنِهِۦ مَا يَشَآءُ ۚ إِنَّهُۥ عَلِىٌّ حَكِيمٌ ﴿٥١﴾

**هيڅ يو بشر د دې توان طاقت نه لرى چې له الله تعالى سره( مخامخ) خبرې وکړى. خو الله به ورسره يا د وحې په واسطه او يا د پردې تر شا خبرې کوى او يا به پرښته ورليږى چې د الله تعالى په اجازه ورته الهى پيغام څنګه چې ورته امر شوى، ابلاغ کړى. بيشکه چې الله تعالى د لوړې مرتبې او  حکمت څښتن ذات دى.**

وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنتَ تَدْرِى مَا ٱلْكِتَـٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَـٰنُ وَلَـٰكِن جَعَلْنَـٰهُ نُورًا نَّهْدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾

**او( اى پيغمبره! لکه څنګه چې مو ستا نه وړاندنيو پيغمبرانو ته وحې کړې وه د قرآن په نوم) روح مو تا ته د وحې په ترڅ کې درواستاوه. ته له دې وړاندې نه پوهيدې چې کتاب څه دى او ايمان څه دى، خو (دغه قرآن) مو د يوه نور په حيث وټاکه او خپل هر بنده ته چې يې وغواړو د هغه په وسيله ورته د هدايت لاره سموو. ( اى پيغمبره) بيشکه چې ته د هدايت مستقيمې لارې ته د خلکو لارښود يې.**

صِرَٰطِ ٱللَّهِ ٱلَّذِى لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلْأُمُورُ ﴿٥٣﴾

**د هغه الله لار چې د آسمانونو او ځمکې ټول مخلوقات يې د مالکيت او سلطنت په قلمرو کې شامل دى. خبردار چې ټولې چارې( د قيامت په ورځ) بيرته د الله تعالى حضور ته ورګرځى.**

**« تمت سورة الشورى بفضل الله و رحمته»**

**===================**